# د سربو مسمومیت مخه ونیسئ

زیاتو معلوماتو لپاره http://www.doh.wa.gov/lead وګورئ یا
Washington Poison Center سره له 200 څخه په زیاتو ژبو شته وړیا او
محرمي مرستي لپاره ټیلفون وکړئ: 222-1222 (800)

## د سرب احتمالي سرچینې

### د سرب رنګ



1978 څخه وړاندې جوړو شوو کورونو په: میده او له دېواله جلا شوی رنګ؛ د سرب رنګ چټلي کې

### خاوره



- هوايي ډګرونو، فابریکو، لویو لارو او باغونو ته نژدې چټلي کې
- چټلي، تیره، خاوره خوړل

### د سینګار توکي



- رانجه، کاجل یا کوهل کېدای شي سرب ولري

### د کور توکي



- لرغوني توکي او خاورین لوښي
- کلی، بېټرۍ (د مثال په توګه برېښنايي اوزار)
- شوقي کارونه (د مثال په توګه رنګ شوی ښیښې، کبانو وزن کول)

### د لوبې سامان



- د لوبې زاړه رنګ شوي سامان
- د لوبې فلزي سامان
- سیمه‌ییزه/ ارزان بیه ګاڼه

### کورني درمل



ځیني یې سرب لري: ګرېټا (Greta)، ازرکن (Azarcon)، پیلوه (Paylooah)، غسرد (Ghasard)، بالي ګولي (Bali Goli)، کندو (Kandu)، باباوسان (Ba-Bawsan)، او داو توي (Daw Tway)

د سرب مسمومیت د ماشوم روغتیا په جدي توګه زیانمنولی شي.

## خپل ماشومان وژغورئ

### پاکوالی

د کور پاکوالي لپاره ستاسي ساده ګامونه ستاسي ماشومانو خوندي ساتلو کې مرسته کوي.

### خاوره محدوده کړئ



- بوټان دروازې سره وساتئ
- که کار کې سرب سره مخامخ شوي یاست خپلې جامې بدلې کړئ

### ووینځئ



- لاسونه او د لوبې سامان څو ځلې ووینځئ
- صابون او اوبه وکاروئ

### لمدول



- اوبه، لمدې جامې، لوند وچونکی، مایع پاکوونکي وکاروئ
- که کولی شئ، هیپا (HEPA) فلتر لرونکی جارو سره جارو وکړئ

### خواړه

صحي خواړه ستاسي ماشومان د سرب له ناوړه اغېز ژغورلی شي.



**اوسپنه**



**کلسیم**



**وېټامین سي (C)**

**مثالونه**

چرګان، غوښه، کبان، هګۍ، لوبیا، پلۍ، شنې پاڼې، میوه، شیدې، پنیر، مستې

- د ټولو کډوالو ماشومانو د راتګ له لومړۍ معاینې وروسته 6-3 میاشتو کې د وینې معاینه تکرار کړئ.
- کور، وړکتون، ښوونځی یا کار کې د سرب سرچینې ولټوئ.
- که چېرې ځوان ماشومان لرئ یا بلاربه یاست خپل ډاکټر سره د وینې سرب معاینې اړوند خبرې وکړئ.

DOH 334-416
Washington State Department of Health
WASHINGTON POISON CENTER (800) 222 1222
refugees NORTHWEST